فرمان الهي

پس باید پیکار نمایند کساني که زندګي دنیا را در بدل آخرت میفروشند و کسي که در راه خدا «ج» مي جنګد، پس کشته میشود یا پیروز میګردد به وي مزد بزرګ میدهیم. و چیست شما را که پیکار نمیکنید در راه خدا و براي خیر بیچارګان از مردان و زنان و کودکان آنانیکه میګویند: اي پروردګار ما، برون آر ما را از این قریه که ستمګار اند اهل آن و مقرر کن براي ما از نزدیك خود کار سازي و مقرر کن براي ما از نزدیك خود یاري دهنده اي. (النسا-٧٤-٧٥)

شریعت

اوونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریك مرکزی نشراتی ارګان

ارشادنبوی

در روز قیامت هر خاین بیرقي دارد و این بیرق به تناسب مقدار خیانت وي بلند رفته مي رود. اي مردم آګاه باشید که بزرګ ترین خائنین در روز قیامت پادشاه غدار است. (بخاري و مسلم)

دوهم کال اووه دیرشمه ګڼه پرله پسې (٨٧) | چهارشنبه د ١٣٧٦ هـ ش کال د وږی دمیاشتي (٢٦) | د ١٩٩٧ میلادي کال سپتمبر (١٧) | د ١٤١٧هـ ق کال د جمادي الاول(١٤)

تذکر: خطر ایمان است اګـر به این کلمات مقدس بي حرمتي کنید.

په مزار شریف کې د ملیشو لخوا لوی او تاریخی لوټ او تالان

ملګري ملتونه او نوري خارجي موسسې د مزار په ښار کي خپل دفترونه تړي او کارکوونکي وباسي

په مزار شریف کي تاریخي او لوي لوټ او تالان تر سره شویدي چي د چور شویو مالونو ارزښت میلونو ډالرو ته رسیږي.

د نړیوالو خبري سرچینو د خبر له مخي: مزار شریف ته د افغانستان د اسلامي دولت د سرښندونکو مجاهدینو نږدي کیدلو د مزار په ښار کي ټول ائتلافي ځواکونه او ګلم جم ملیشي وارخطا کړیدي او په ښار کي په ملیشو پوه عامه وارخطایي حاکمه ده په مزار شریف کي د عامو د ګانونو او شتمنیو د چور او چپاول تر څنګ د ملګرو ملتـونو او نورو مرستندویه موسـسو دفترونه هم چور شوي دي.

ملګرو ملتـونو د اسـلامي دولت او له باغي مخالفینو نه بي غوښتي دي چي له مزار شریف نه د دوي د مرسـتندویه افرادو په چټك وتلو کي له دوي سره کومك وکړي.

امریکا غږ راډیو وویل چي د افغـانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي ناربرت هول ویلي دي چي د دوي کـارکوونکي نور په مزار کي کاږ نه شي کولي ځکه چي د دوي ټول تجهیزات او سامان آلات چور شویدي او د ملګرو ملتونو په اعلامیه کي ویل شویدي چي د دوي د چور شویو سامان آلاتو قیمت میلونونو ډالرو ته رسیده. همدا راز په دي اعلامیه کي راغلي دي چي په ډېره پیـــــمانه دوا او درمل، طبي سـامان الات او د خوراکي مــــوادو زیرمي هم چور شویدي.

په اسلام اباد کي د ملګرو ملتونو د خوراکي پروګرام د مدیر مرستیال «طارق الګندي» له بي بي سي سره د یوي مرکي په ترځ کي ځرګنده کړه چي په ښار کي په نورو ایجنسیو کي هم چور او تالان شـویدي ده وویل چي دي چور او تالان ٤٨ ساعته دوام درلود.

ده وویل چي تقریباً اوه سوه ... ټلورم مخ

د افغانستان د اسلامي دولت د سرپرستي شورا ابلاغیه

د افغانستان مومنو او هیواد پالو مسلمانانو!

دا یو منل شوي حقیقت دي چي په تیرو فاسدو رژیمونو کي برسیره پر نورو مفاسدو او غیر شرعي او ناروااعـیها فوکتو هم په دولتي دوایرو او شعبـاتو کي د رشوت اخیـسـتل او ورکول دیوه معمول او رواجي عمل په توګه جریان درلوده که څه هم د افغانستان د طالبانو اسلامي تحریك او اسلامي دولتدغه مقـصد او غیر شرعي عمل د مخنیوي په منظور ډیر کوششونه کړي دي مګر متاسفانه بیا هم اوریدل کیږي چي رشوت ورکول او رشوت اخیستل په دولتي دایرو کي اوس هم څه نا څه جریان لري ددغه ناروا عـمل څخه مخنیوي ته تنهـا د اسلامي دولت مشخصه او اساسي دنده ده بلکه د هیواد ټول مسلمانان هم شرعي مکلفیت لري تر څو د هر ناروا او غیر شرعي عمل په لیدلو سره د هغه پر دفع کولو کي د لاس او خولي په واسطه عملي اقدام وکړي.

نو بنا په دي ټولو مسلمانو هیوادوالو ته په دي وسیله خبر ورکول کیږي چي که چیري په دولتي دایرو کي د رشوت ورکوونکي او رشوت اخیسـتونکي سره مخامخ کیږي او یا هم پري خبریږي، په مرکز کي دي د عدلیي وزارت د سرپرست محترم الحاج ملا نور الدین ترابي ته او په ولایتونوکي دي مربوطو والیانو ته په خصوصي ډول رپوټ ورکړي او په دي وسیله دي په دغه اسـلامي عـمل کي خپله ونډه واخلي البتـه اجر به یي لوي خدای«ج» هم ورکړي او د اسلامي دولت د تحسین موجب به هم وګرځي رپوټ ورکوونکي به هیڅ ډول نه افشا کیږي.

د یادوني وړ ده چي رپوټ به موثق او د اسنادو له مخي وي که چیري رپوټ ثابت نشي رپوټ ورکوونکي ته به سزا ورکول کیږي.

د ډاکترانو لپاره د سرویلانس سیمینار پاي ته ورسید

د مـاشـومـانو د روغتـونو نو د ډاکترانو لپاره د سرویلانس دري ورځني سیمینار چي څه موده مخکي د عامي روغتـیا په وزارت کي جوړ شوي و د دوشنبي په ورځ د رواني میاشتي په ٢٤ مـه د یوي غـونډي په ترځ کي پاي ته ورسید.

د باختر د اطلاعاتي آژانس خبریال خبر راکړ: په غونډه کي لومړي ټلورم مخ

د مرحـــداتو په وزارت کـي د یو جومات د بنسټ ډبره کیښودل شوه

د سـرحـــدونو د چـــارو په وزارت کـــي د یوي غـونډي په ترځ کي د یو جومات د بنسټ ډبره کـــیښودل شوه.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دي غونډه کي د سرحدونو چارو وزارت سرپرست محـترم الحاج مولوي جلال الدین حقاني په داسي حال کي چي ددغـه وزارت یو شمیر مسؤولین هم حاضرو په اسلامي تولنو کي د جوماتونو درول او د لمانځه د ادا کولو ټلورم مخ

د فواید عامي وزارت سرپرست د پل خشتي د جامع جومات د کـــار بهیر وکـوت

د فواید عامي وزارت سرپرست محترم ملا الله داد اخند د پل خـشـتي د جـامع جومات د ترمیماتي کار بهیر وکوت.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ: د فواید عامي وزارت سرپرست په داسي حال کي چي ددغـه وزارت ځیني مسـؤولین ورسره ملګري و د پل خشتي د جامع جومات د بیا احیا کولو او ترمیمولو د کار بهیر چي کـار یي ددغـه وزارت د بنایي ساختـمـاني دستګاه له خوا پر مخ بیول کیږي له ټلورم مخ

د کابل ښار د څلورمي کارته او د بریکوټ پوسته خاني بیا احیا او د استفادي وړ وګرځېدي

د کابل ښار د څلورمي کارته دهبوریو او د بریکوټ ساري پسته خاني بیا احیا او د استفادي وړ وګرځېدي.

د باختر د اطلاعاتي آژانس خبریال خبر راکړ: د څلورمي کارته دهبوریو او د بریکوټ ساري پسته خاني چي د رباني د مفسدي اداري د جګړو په نتیجه کي ویجاړي شوي وي په دي وروستیو وختو کي د افغانستان د اسلامي دولت د مشرتابه د پاملرني او د مخابراتو وزارت د منسوبینو د هلو ځلو له امله بیا احیا او د هیواد والو خدمت ته چمتو شوي.

ددغو پسته خانو تجهیزات او لوازم د رباني د مفسد رژیم د ټوپکیانو له خوا لوټ کړي شوي وو او ودانۍ یي هم د توغندیو د لګیدو له امله بیخي له منځه تللي وه.

د کــــابل ښار د هغــو نورو پسته خانو د احیا کولو کـــار هم په بیـــــړه روان دي چـــي د جګړو له امله ویجاړي شویدي.

په اثر سعي و تلاش منسوبین حوزه ششم پولیس، شماري از قمار بازان دستګیر ګردیدند

خبـرنګار هفتـه نامـه شریعت ګزارش داد:

اخیــــراً از اثر سـعي و تلاش منسـوبین حوزه ششم پولیس، شش تن از قماربازان در یك منزل واقع قلعـــه علیمردان مربوط ساحه آن حوزه، در جریان فعل قمار بالفعل دستګیر ګردیدند.

قـضــــیه تحت باز پرسئ شرعــــي و قـانوني قرار دارد.

له اسلامي دولت سره د پیوستون د اعلان په خاطر د خاکي په کـمپ کي درنه غـونډه جوړه شوه

د پاکستان د خاکي کمپ عالمانو سپین ږیرو او مهاجرینو په دي وروستیو وختو کي د حسن المدارس په مدرسه کي د یوي ستري غونډي په ترځ کي د افغانستان له اسلامي دولت سره خپل ملاتړ او پیوستون اعلام او بو ځل بیا تائید کړ.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ: ددغي غونډي په بهیر کي لومړي د کلام الله مجید څو ایتونه ولوستل شول او بیا محترم ابو الحسن اخند زاده او محترم مولوي ... ص ٤

د نشه بي مواد و بر خـلاف د مبارزي کمیسیون غونډه وکړه

د نشه بي موادو پر خلاف د مبارزي د کـمیـــــیون د تعلیـمي او تربیتي چارو اختصاصي کمیتي غونډه ددغه کمیسیون په مقر کي جوړه شوه.

دباختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په غونډه کي په دي ترځ کي چي د افغانستان د اسلامي دولت په خاوره کي د نشه بي موادو د کرکیلي، تولید، د ترافیکو او استعمال د بندولو په باب خبري وشوي د نشه بي موادو په ضرورتو باندي د طالبانو او زده کوونکو د پوهولو په لاره کي د تعلیـــمي او تربیتي موسـو د مسؤولینو پاملرنه جلب شوه.

بیست کیلو متر سرك در ولایت پکتیا ترمیم و مورد استفاده ترافیك قرار ګرفت

بیست کیلو متر سرك در منطقه تیره ولایت پکتیا که در اثر سیلابها تخریب شده بود اخیراً توسط انجیران ریاست عمومي فواید عامه آنولایت ترمیم و مورد استفاده ترافیك قرار ګرفت.

سرك متذکره که از قسمت باغ تیره الي اخیر کوتل تیره در اثر سرازیر شدن سیلابها تخریب ګردیده بود در اثر مساعي مسوولین و انجنیران آن ولایت و همکاري قول اردوي نمبر سوم ترمیم و مورد استفاده قرار ګرفت.

کار ترمیم سایر ساحات سرك متذکره ادامه دارد.

د نوي جبهي جوړیدل د زړو تجربو تکرار دي

دغه جبهي د مزدورو ډلو او افرادو له تبارز پرته بله نتیجه نلري

سهار ورځپانه

تیره ورځ مطبوعاتو دا خبر خپور کړ چي ګویا په مزار کي د طالبانو له وروستیو بریاوو وروسته کمونست دوستم له ترکیي راخوږول شوي او کیداي شي چي مزار ته راستون شي او د افغانستان د اسلامي دولت په ضد نوي جبهه خلاصه کړي، موږ څو څو ځله مخکي هم دا ویلي دي او اوس یي هم وایو چي د شکو په بندډ سیلاب مخه نه نیـول کـیـږي او د پردیو په اشـاره د نڅـیـدونکو او له ملت نه د رټل شویو عناصرو عـمر لنډ دي دا جبـهي او دا اعلاتونه د ملت دا مجرمین نه د ملت له منګولو خلاصولي شي او نه خو اوبو ویي د زګ او واښو په راتیولو نجات موندلي شي، په پیښور کي خپریدونکي ټلورم مخ

په پیشواز فرا رسیدن اولین سالګـرد فتح ظفرمند پایتخت کشور مسابقات بایسکل راني در شهر کابل برګزار ګردید



به پیشواز فرا رسیدن اولین سالګرد فتح ظفر مند پایتخت کشـور و اعلام دولت اسـلامي افغـانستان به تاریخ ٢٣ سنبله مسـابقات بایسکل راني در شهر کابل برګزار شد.

آژانس اطلاعـاتي باختـر ګزارش داد: در نتیجه این مسـابقات که بین ورزشکاران کلـوپ ورزشي پولیس، استخبارات، کلپ صادق و سایر کلب هاي ورزشي به مسافه بیست کیلو متر از سرك تنګي پلچرخي الي سه راهي مکروریان سوم راه اندازي ګردیده بود محترم محمد شاه عضو کلوپ سپورتي پولیس حـایز مـقـام اول و برنده کپ قـهرماني مدال طلا و دیپلوم ص ٤

د عامي روغتـیا وزارت په تیـره اوني کـي څه د پاسه پنځه ویشت زره څاګانـي کلوریشن کړیدي

د عامي روغتیا وزارت د تیري اووني په بهیر کي د کابل په ښار او د کابل ولایت د ده سبز، بګرامیو او د چاراسیاب په ولسوالیو کي د ځـــبـاك څه دپاسـه پنځه ویشت زره څاګاني کلوریشن کړیدي.

د باختـر اطلاعـاتي آژانس خبـر راکړ د ناروغیو د مخنیوي په خاطر د افغـانـسـتان د اسلامي دولت د عامي روغتیا وزارت ټلورم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

ددي وخت رارسیدلي دي چي:

په افغـانسـتان کي مداخله کوونکي هیـوادونه (ایران، روسیـه او د روس تر قوماندي لاندي تاجکسـتان او نور هیوادونه) په افغانستان کي خپلي بریښتي او بر آلا لاس وهني - چي له کــلونو راهیـــي رواني او د افغـــانانو د تباهي سبب شوي دي - توري بس کړي او له افغانستان سره د ښه ګــاونډیتوب، روښانه راتلونکــــي او یو له بله دګټـــورو اړیکو او مرستو په هکله سوچ وکړي: ځکه اوس د افغـــانـــستان د مجاهد او مسلمان ولس هغه د زړه له کومي غوښتني - چي په افغانستان کي د اســــلامي دولت تر لارښوونې لاندي د اســــلامي شریعت عـملي کـول، امن او سوکـالي راوستل، غله، بدماشان، د شر او فساد ډلي ورك کول - ورځ په ورځ تحقق او پراختیا مومي امـــید دي چي دغـه ډیا به انشــــاء الله تعالي د هیواد هغو ټولو سیمـــو ته ورسیږي چي له بده مــــرغه لا تر اوسه د ظلـــم، ناروا، تیري، فسق او فساد په لمبـــرکـي سوځي!

له بده مرغه دغه هیوادونه د یوه مثبت سوچ په ځاي چي د افغانستان له اسلامي دولت سره د ښه ګاونډیتوب، ښو اړیکو او متقابلو مرستو په لوري د دوي سترګي ور خلاصي کړي د منفي سوچ او طرز تفکر په لوري لا نور هم په وړاندي ځي، روس په دغـو نږدي ورځـوکي د یوري پاتورین په لاس خـپل پخـواني پروتوکولي نوکر (نامسعود احمد شاه ته) د (لونا) نوي توغندي راواستول چي د کابل هغه مظلوم مسلمانان بو ځل بیا د ویر او ژړا په ټغر کینبوي چي ځلور نیم کاله یي د نامسعود او دده په شان حیرو له لاسه هغه نا خوالي، تباهي دوهم مخ

این همه مؤسسات ، این همه مشکلات !!؟

شهروندان کابل از شیوهٔ کاربعضی از موسسات شکایت دارند

خوانندګان عزیز! از دیرست که نامه هاي مملو از انتقاد هاي تند و صریح خوانندګان هفته نامه شریعت راجع به چګونګي کار و فعالیت برخي از موسسـات خیریه غیر دولتي (NGOs) در کابل؛ بالاخص روي این امر که اغلب در این موسسـات استفاده جویي ها صورت میګیرد، پیوسته به این اداره مواصلت ورزیده است.

خبرنګار هفته نامه شریعت، غرض روشن ساختن صحت و سقم موضوع با چند تن مسؤولین موسسات، افراد مستحق و افراد ذیدخل دیګر ګفتګو نموده و ګزارشي را از چګونګي کار و فعالیت این موسسات تهیه نموده است که شما عزیزان را به خوانش آن فرا میخوانیم:

هم اکنون بطور مجموعي در حدود ١٧٨ موسسه داخلي و خارجي راجستر شده و غیر راجستر شده در امور باز سازي افغانستان در شهر کابل بصورت آزادانه بدون هیچ نوع قیود و نظارت فعالیت دارند.

از این جمله (١٣) موسسه تنها در بخش تهیه و توزیع نان خشك براي شهروندان شهر کابل و متباقي این موسسات در بخش کمك هاي اولیه صحي و اعمار ص ٤

د منځنیو روغتیایي زده کړو په انستیټوت کې یو روغتیایي کلنیك پرانستل شو

د روغتیایي زده کړو په انستیتوت کي یو روغتیایي کلنیك پرانستل شو. په هغي غونډه کي چي له همدي امله ددغه انستیتوت په مقر کي جوړه شوي وه د منځنیو روغتیایي زده کړو د انستیتوت رئیس په هیواد کي ددغه شان روغتیایي مرکزونو د جوړولو د اړتیا په باره کي خبري وکړي او په هیواد کي ددغه شان مرکزونو د جوړولو کار یي مثبت او یو ضرورت وباله دغه کلینیك د یونیسف او د نړي د روغتیایي سازمان د اداري په مالي مرسته جوړ شوي دي چي درمل یي هم د همدغو موسسو له لاري بشپړیږي.

شش تن متقلبین که میخواستند پاسپورت هاي جعلي بسازند دستګیر شدند

خبـرنګار هفتـه نامـه شریعت ګزارش داد: اخیراً شش تن از متقلبین پاسپـورت هاي جـعلي در ساحـه قوماندانی امنیه ولایت کابل، حینیکه میخواستند آخرین مراحل رسمي حصول پاسپورت هاي یکتعداد از هموطنان ما را قسم اجرت کمیشن طي نمایند، از جانب منسوبین قوماندانی امنیه ولایت کابل بازداشت ګردیدند.

اسناد بدست آمده از نزد متقلبین، شامل هفت قطعه پاسپورت جعلي و هفت دوسیه اسناد طي مراحلي پاسپورت، که به شکل قلابي ترتیب یافته؛ میباشد. قضیه تحت بازپرس شرعي و قانوني قرار دارد.

دوستم بعد از دیدن با هیات هاي امریکایي وروسي به مزار شریف برګشتانده شد

کمونیست فراري و سردسته ګلم جمان «دوستم» بعد از کسب اعتماد و اطمینان از طرف هیأتهاي روسي و امریکایي به مزار شریف برګشتانده شد.

طبق ګزارشات منابع خبري جهان نامبرده در تاشکند با هیأتهاي متذکره دیدار نموده و بعد از کسب اعتماد و اطمینان آنها به مزار شریف ټلورم مخ

خبرتیا

د شریعت اوونیزي اداره په بهر کي میشته و افغان مهاجرو ورونو ته چي په شریعت اوونیزه کي ګـډون لري او یا په راتلونکي کي ګډون کوي خبر ورکوي چي: د اشتراك وجه یوازي او یوازي په لاندي جاري بانکي حساب را ولیږي او له نورو لارو نه یي له رالیږلو نه ډډه وکړي.

Account No :
71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar

څوك چي د کـفارو د خوښئ او د هـغوي د مرستو د تر لاسه کـولو لپاره له خپلو دیـني او ملي اصولو او ارمانونو نه تیریږي د اسلامي او ملي هـوډ او غـیرت خـاوندان نه دي

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : الحاج مولوي عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کي (۲) کلداري
آدرس : کابل وزیرأکبر خان مینه /سرك۱۱ / کور (٥۲۰)
تیلفون : ۲۱۳۸۱ - توزیع و شکایات ٦۲۸٥۹
پوست بکس : (٤۷۱)
په پیښور کي : دطالبانو نمایندگي / تیلفون: ۸٤٤۲۳۱-۸۱۸۱٥۷-۸۱٥٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۲۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز

د سرمقالي پاتي برخه

اوږ بربادي زغملي وي چي تعبیر بي د ژبي او قلم له وس نه بهر دي، ایله بیله بي دا څو میاشتي د اسلامي تحریك او دولت له راتللو وروسته یو څه غوړونه ارام او ډاډه شوي وو، بر سیره په دي روس د تاجکستان د علي رحمانوف رژیم مجبور کړي دي چي د کولاب هوايي ډگر دي په افغانستان کي د امن او اسلامي شریعت د نفاذ د دښمنانو ته په واك ورکړي تر څو روسي پوځي او لوژستیکي بیدریغه مرستي لومړي کولاب او بیا تالقانو او مزار شریف ته ورسوي، کله چي د اسلامي تحریك او دولت زړورو مجاهدینو په ټولو سنگرونو کي د ناولي ایتلاف بریدونه شنډ کړل او د الله تعالی په مرسته مزار شریف ته ورسیدل نو د فوځي مهماتو د بهیر په گړندي کولو برسیره چي له ایران نه بامیانو او له روس نه تالقانو ته راچلیدل له تباه کوونکو ټوغندیو سره سره بي د دوستم رټلي څېره هم په هلیکوپتر کي مزار شریف ته راورسوله تر څو وکولي شي په افغانستان کي د امن او اسلامي نظام د په پښو کولو مخه ونیسي؛

زموږ ایمان دي چي د هر څه واك له الله تعالي سره دي او د هغه جل جلاله وعده داسي ده چي د شیطان ډله (حزب الشیطان) ناکامه او د الله تعالي دله (حزب الله) بريالي کیدونکي ده . د طالبانو اسلامي تحریك چي بي له شکه د الله تعالي ډله ده خامخا به یا ژر یا لږ وروسته د خپلو شهیدانو کرامو «رح» ارمان او د خپل مجاهد او مسلمان ولس غوښتني (د اسلامي شریعت پوره عملي کول، امن او سوکالي، زمکني بشپړتیا او ملي خپلواکي)انشاء الله تعالي تر سره کړي هغه وخت به بیا دوي په کوم مخ د افغانستان دولت ته گوري؟!

نړي واله ټولني او ملل متحد یو وخت دا څیره کوله چي څوك به په افغانستان کي له غیر مسؤولو کسانو، غلو او پاټکیانو څخه وسلي ټولي، پاټکونه او د لارو غله ورك او امنیت به ټینگ کړي ...؟ اسلامي تحریك او دولت د الله تعالي په مرسته دا هر څه وکړل مگر نه یوازي بي ددغه کار قدرداني ونه شوه بلکي لگیا دي د اسلامي شریعت د نفاذ غندنه کوي - نعوذ بالله- ډول ډول پلمي رامخي ته کوي، د رباني راپرځیدلي رژیم په رسمیت پیژني، په نړیوالو غونډوکي بي موجودیت تثبیتوي او د شړیدلي مخالف ایتلاف ډلو ته تبارز ورکوي، د هیواد د بهرنیو دښمنانو بریڼلي او بر آلا لاس وهني په یوه مبهمه جمله کي یادوي (چي بهرني لاس وهني دي بندي شي) ، کله چي د افغانستان اسلامي دولت د ټولو بهرنیو لاس وهنو د لوڅولو د لارو چارو وړاندیز ورته کوي ځان نا پوه ورڅخه ټیروي او کله چي د دولت له دښمنانو سره د بدنیتو هیوادونو مرستي بر بنډي هم شي څه نه ورته وایي او که وایي نو هغه یوه مبهمه جمله تکراروي؛

بل ددي خبري ضرورت هم له بل هر وخت زیات شوي دي چي د اسلامي دولت دښمنان دي - که په هیواد کي راتلونکي ژوند کول غواړي- په خپلو کړو وړو له نوي سره غور وکړي چي تر څو به د الله تعالي د شریعت له نفاذ سره تر څو به د شریعت له علماوو طالبانو او ټول ملت سر په جگړو وي، تر څو به هیوادوال کړوي او تر لاس لاندي سیمو ته به بي په زور له کوروڼو نه راباسي او د جنگ ډگر ته به بي استوي چي ډیر کم طالعمن بي بیرته روغ راځي؟ تر څو به د بل چا په پښو ځي او د بل چا په شونډو به خبري کوي ؟ تر څو به د افغانانو خوارکیانو په کلیو او بانډوکي عام قتلونه کوي چي پړه بي په اسلامي تحریك او دولت وروا اچوي؟ لکه چي په کابل کي به بي په کوروڼو توغندي راوښتل خلکو به لیدل چي دوي بي راخوشي کوي مگر پړه به بي په اسلامي تحریك وراچوله - حاشا لِله-

ډاکتر عبدالله چي اوس د فقید عزیز مراد دروغ هم دده په ذمه دي اسلامي تحریك او دولت ته د هغو تیریو نسبت کوي چي د اسلامي تحریك په خپل ټول ژوند کي د هیواد مسلمانانو ورڅخه نه دي لیدلي بلکي د شر او فساد د ولو ژوري ریښي په دغه هکله ټولة نړي او هیواد وال پیژني؛

دا وخت چي د شر او فساد او الحاد دډلو د ورکوالي او زوال شیبي نږدي ښکاري ډیر ژور سوچ دي وکړي چي دا ایتلافونه بي پایښته او کم زوري دي په داسي حال کي چي د هیواد ۸۰ په سلوکي برخه له اسلامي دولت سره دي نو پاته برخه چي هغه هم ټوټه ټوټه ده څنگه به د تل لپاره قوماندان سالاري ورباندي وچلولي شي؟ سوچ دي وکړي سم سوچ، څکه وروسته بیا پښیماني گټه نه لري .

د شریعت تبصره

ائتلاف شمال «علی شفا حفرة من النار»

شاملین ائتلاف به اصطلاح جبهه متحد براي نجات افغانستان !! که تحت نظر مستقیم دشمنان تاریخي بي عقیده، استقلال و تمامیت ارضي کشور ما (روسیه، ایران ، هند و...) بوجود آمده بود و هدفي جز نجات بقایاي کمونیزم ، غارتگران ستمي و شعله یي از آتش انتقام و قهر ملت مجاهد افغان و سقوط کشور عزیز ما در آغوش ناپاك آنها نداشت، در چاهي که حفر کرده بودند خود افتادند ، ضرب المثل مشهور است که میگویند « چاه کن خودش در چاه است» آنهائیکه براي نابودي ملت مجاهدما ، بنا بر فرامین باداران شان از اعمال هیچگونه وحشت دست نکشیدند و از انجام هیچنوع جنایت نه شرمیدند اکنون در مرحله قرار دارند که نه باداران خارجي شان توان نجات آنها را در خود مي بینند و نه خود این جنایتکاران روزنه، امیدي براي خود باقي گذاشته اند . «إن بطش ربك لشدید» بلي ! گرفت خداوند قهار «جل جلاله» بسیار سخت و عذاب دهنده است . ائتلاف ملیشه هاي مزدور در شمال همچو گوساله، بزکشي از جوانب مختلف مورد حمله و کشش قرار گرفته، از یکسر حملات ریزمریز کننده مجاهدین قهرمان تحریك اسلامي طالبان و اردوي اسلامي افغانستان، از جانب دیگر قیام هاي دلیرانه و فاتحانه، مجاهدین مخلص جهاد کفر شکن افغانستان و از طرفي هم شعله ور شدن آتش جنگ دربین خود ائتلاف‌نوکران خود فروخته اجانب خیال مي کردند که حمایت خارجیان و وحشت خودشان ضامن اقتدار و حاکمیت ظالمانه شان در شمال کشور خواهد شد اما ملت مجاهد افغان، ملتي نیست که ظلم بپذیرد و اسارت قبول کند قیام هاي متداوم و فاتحانه مجاهدین مخلص انقلاب اسلامي افغانستان در ولایات شمال کشور نشان داد که این توده، مجاهد فقط پیروان اصل توحید و ایمان اند، نه خصوصیات قومي و سمتي و نه خواهشات نفساني و شیطاني ، آنها را از تعقیب راه حق و حمایت تحریك حقجو و حقپرست اولاد مجاهد این کشور (تحریك اسلامي طالبان)جدا ساخته مي تواند . ضربه هاي کاري مجاهدین سر بکف بر پیکر ائتلاف اکنون کار را به جایي کشانیده که دیگر نه ائتلافي وجود خواهد داشت و نه پلان هاي خاینانه تجزیه طلبانه شان ، هم ائتلاف تجزیه شده و هم کارگردانان ائتلاف.

راپور هاي رسانه هاي خبري جهان و چشم دید هاي حالات جاري سمت شمال شاهد این مدعاست که ائتلاف از وارخطایي زیاد راهش را گم کرده، نه دوست مي شناسد نه دشمن، به جان همدیگر افتاده اند، بر ناموس، مال و جان اهالي مظلوم یورش ها مي برند و دارایي هاي بیت المال و موسسات خارجي را تاراج مي کنند به اصطلاح رهبران ائتلاف در حدي بر یکدیگر بي اعتماد شده اند که فقط دست به ماشه در جستجوي یکدیگر اند نه به امید صلاح و مشوره . رباني این بدبخت ترین فرد دوران که با قوماندان شریر و مفسدش (مسعود) عامل این همه تباهي ها و جنایات در کشور است اکنون جز اسیري، شخصیت بیش نیست ، جنرال مالك که نتوانست بقایاي وطنفروش کمونیزم را به دور خود جمع نموده و از آن به اصطلاح قوتي بسازد از طرف ولي نعمتانش !! (روسیه و ایران) رانده شده و از مزار شریف بسوي مرکز قومي اش فرار نموده ولي در هنگام فرار توشه با خود گرفته و ترك منطقه کرد او رباني را که کرسي به اصطلاح ریاست جمهوري را بر کمر بسته اما در حقیقت اکنون جز فرد فراري و بي صلاحیت، چیز دیگري نیست با خود به اسارت گرفته و به شبرغان انتقال داد ، از سخنان رباني این راز مشهود است که وي اکنون اسیر مالك است و بس، زیرا هنگام این پرسش خبرنگار رادیوي بي بي سي؛« که گفته مي شود جنرال دوستم به قصد بازگشت به مزار شریف عازم منطقه شده است چه نظر دارید ؟» رباني مي گوید: « من از آمدن دوستم اطلاعي ندارم» در حالیکه دوستم در جریان مصاحبه اش فاش مي سازد که به دعوت رباني، مسعود و خلیلي به مزار شریف برگشته است ، دوستم راست مي گوید رباني به منظور خوش خدمتي بیشتر به کمونیستان و انسجام خوبتر آنها ، دوستم را دعوت کرده بود اما اکنون گلویش در پنجه هاي مالك که مخالف سر سخت و تشنه، خون دوستم است قرار دارد بنا ؛ کجا گفته مي تواند که من دوستم را دعوت کرده ام خوب شد که به چشم باز انجام اعمال شوم خود را مي بیند و از مقام به اصطلاح ریاست جمهوري به اسیر یك ملیشه مبدل مي گردد .

اگر چه باداران خارجي ملیشه ها در تلاش تشکیل یك ائتلاف جدید اند تا اگر توانسته باشند چند روز دیگري به عمر نوکرانشان بیفزایند که رسانه هاي خبري جهان از احتمال چنین ائتلاف اطلاعاتي به دست نشر هم سپرده چنانچه روزنامه سهار چاپ پشاور در شماره تاریخي ۲۲ سنبله سال جاري خویش تحت عنوان «د زړو تجربو ناکام تکرار» مي نویسد «... له دي سره سم یو ځل بیا د یوي نوي جبهي آوازي شوي چي دوستم، د استاد رباني ډله، حزب اسلامي، او حزب وحدت به په کي شامل وي یعني یوازي مسعود او مالك له‌یوي نظامي جبهي څخه ظاهراً بهر پاتي دي ...» اما این یك خیال است و محال است و جنون، زیرا رباني فعلاً وجودي نه دارد ، توسط مالك اختطاف گردیده و اسیر وي میباشد. رهبري حزب اسلامي هم اگر تن به قبول این جنایت بدهد اما مجاهدین این تنظیم هیچگاه تن به چنین عمل غیر اسلامي و ملي نداده و همین اکنون مخلصانه بر ضد بقایاي کمونیزم و نوکران وحشي ایراني و روسي قیام فاتحانه نموده و در صفوف اردوي اسلامي افغانستان منسجم گردیده اند، دوستم بنا بر گفته رفیق قبلي اش (گل پهلوان) امروز آن دوستم سابقه نیست او هیچ قوتي ندارد، حامیان قبلي کمونیست اش توسط مالك از پا افتاده و تضعیف شده اند و بالاخره حزب وحدت فعلاً در یك جنگ بسیار وحشیانه و ویرانگر با مالك روبرو است و بعد از مالك با مسعود و دوستم تصفیه حساب خواهد کرد زیرا اکنون این گروه ادعاي حاکمیت عام و تام بر مزار شریف را دارد که این وضعیت براي حریفان نظاري و گلم جم اش و حامیان به خصوص خارجي شان (ازبکستان و روسیه) هیچگاهي قابل قبول نیست . پس معلوم میگردد که عمر ائتلاف به پایان رسیده و باز زنده ساختن آن نا ممکن. اما اینکه سرنوشت مسعود و مالك چه خواهد شد این نیز اظهر من الشمس است . مسعود اکنون در قفس نفس کش روس ها گیر آمده « مشاورین روسي دورو پیش اش را گرفته ، بنابر اظهارات داود جنش خبرنگار بي بي سي در شام ۱۷ سنبله سال جاري « بوري پانورینگ» مشاور عالیرتبه نظامي بوریس یلتسن رئیس جمهور روسیه، قوماندان اعلي مسعود مقرر گردیده و او را سوق و اداره مي کند که عاقبتش جز انجام نوکران قبلي روس در کشور ما چیز دیگري نخواهد بود و مالك همانطوریکه بسیار خائنانه در ضمن توطیه، مجاهدین تحریك اسلامي طالبان را در مزار شریف محصور و مورد حمله قرار داد نیرو هاي خودش به همان قسم در مزار شریف محصور و توسط تفنگداران وحشي حزب وحدت و دوستم مرمي باران شده و اجساد ناپاك شان در بازار و کوچه هاي شهر افتاده است و خودش نیز یا فرار به اینسو و آنسو از عاقبت اعمال ددمنشانه خود رهایي نخواهد یافت .

در اخیر باز یاد آور مي شویم که ائتلافیون، کشت کرده خود را در حال درو کردن هستند که انشاء الله در این درو پا هاي خودشان قطع خواهد شد .

« و سیعلم الذین ظلموا ... »

امریکائي دولتي او عدلي مقامات دي پوه شي چي:

اسلامي امت مور خرخونکي نه، بلکه مور پالونکي دي

دریمه برخه

بلال احمد "بری"

«الجنة تحت اقدام الامهات»
نبوي حدیث

دا مقاله د امریکي د دولت د ورجینیا د ایالت د یهود الاصله څارنوال رابرت، اف، هارن Robert F.Horan په جواب کي لیکل کیږي چي دغه امریکایي دولتي څارنوال د روان کال د جون د میاشتي پر ۲۳ ورځ - د امریکي په دولتي محکمه او د فاکس تلویزیون کي وویل او په رسمي توگه یې اعلان وکړ چي « زه نه پوهیږم چي ولي د امریکي جمهور رئیس بل کلنټن د ایمل کاسي د گرفتاري پرسر دوه میلیونه ډالره ایښي دي، دا پیسي زما په نظر ډیري زیاتي دي، زه یقین لرم څو زره ډالرو به عیني کار کړي واي لکه دوه میلیونه ډالرو. څکه پښتونخواه (پښتانه او بلوچ) دا سیمه (کوټه ، بلوچستان) ډیره وروسته پاتي ده او ددي سیمي خلك حاضر دي چي خپلي میندي په څو زره ډالرهم په آساني سره خرڅي کړي ».

العیاذ بالله

د بیني قانوني او حقوقي اړخونه :

اصولاً د ایمل کاسي پیښه یوه جنایي او حقوقي پیښه ده چي د بین الدول د خصوصي حقوقو یا Private International Law په فصل کي بحث پري کیداي شي او دا نړیوال حقوقي سیستم چي د نړي پر مخ د اشخاصو د شخصي حالاتو په باب احکام لري . د ایمل کاسي د پیښي په باب داسي حقوقي سپارښت کوي چي د نړیوال حقوقي سیستم په پیروي ټي د ملکرو ملتو د موسسي هر غړي د هغه په تطبیق او عملي کولو مکلف دي .

سر بیره پر دي نړیوال قانون، څښتي وختونه ضرورت پیښیږي چي دوه مملکتونه په ځانگړي توگه د خپلو اتباعو په باب ځانگړي معاهدي هم ولري . د ایمل کاسي د کیسي او قضیې په ارتباط ، ددي نړیوال قانون په اړوند داسي حقوقي بحث، دعوي او مشاجره کیداي شي ، چي باید واوریدل شي .

الف : د ایمل کاسي گرفتاري د یوه مسلمان مملکت په د ننه کي د یوه پاکستاني تبعه په حیث، مستقیماً د امریکي د دولت د جاسوسي دستگاه او مخصوصاً د CIA له لوري د بین المللي خصوصي حقوقو او د دوه و ملکو د مجرمینو د اعادي د قانون او طرز العمل مخالف عمل گڼل کیږي چي پدي راز معامله کي چي د زور او جبر عنصر زیات مشاهده کیداي شي د پاکستان هغه دولتي مامورین چي پدغه مسئله کي د امریکائي استخباراتو له کارکوونکو سره مؤظف وو ، چي ایمل کاسي و CIA ته وسپاري، د تخویف، تشویق، حب بغض او ... په روحیه بي معاملي کړي وي چي د انتقاد وړ پیښه ده .

ب : په حقیقت کي د ایمل کاسي په پیښه کي د امریکا د دولت د CIA اداري د پاکستان په دننه کي یوه بر بنده تروریستي عملیه اجرا کړیده، چي وروسته بي په اصطلاح قانوني رنگ ورکړیدي که داسي عملیه چي د یو ملك د جاسوسي د دستگاه خلك پخپل یونیفورم کي بل ملك ته ورننوزي او د هغه ملك یو پوخ تبعه او Citizen پداسي حال کي ولجك او زولانه کوي چي اصلاً د هغه جرم هم ندي معلوم او د محکمي په نظر کي ایمل کاسي تر اوسه مجرم نه بلکه په یوه تور متهم دي .

په حقوقي ژبه «برأت ذمه د انسانانو اصلي حالت دي » او هر هغه څوك چي د محکمي د حکم څخه پرته تور پري لگول کیږي . د قانون په سترگو کي پاك او سپیڅلي دي . دغسي عملیې ته تاسي بیله تروریزم او اختطاف څخه څه وایاست که څه هم د امریکي دولت ادعا کوي چي د پاکستان د جمهور رئیس ښاغلي لغاري سره د امریکي د ملك جمهور رئیس بل کلنټن په تلیفون کي اوږدي خبري کړیدي، ښاغلي کلنټن له ښاغلي لغاري څخه غوښتنه کړیده چي :

د پاکستان دولتي مقامات دي د امریکي د جمهور رئیس په غوښتنه د CIA د ایجنټانو او د FBI پولیسو ته اجازه ورکړي چي خپلي امریکایي زولني، دوي پاکستان ته د ځان سره راوړي او هر ځاي چي بي ایمل کاسي ولید هغه دي د پاکستان د دولت په اجازه یا بي اجازي ولجك او زولانه کاندي . د دي کارته په قانوني ژبه تروریزم وایي، خو متنها دا ځل دا تروریزم ددوه و ملکو د رئیس جمهورانو (ښاغلو احمد خان لغاري او بل کلنټن له لوري جواز وگڼل شو) که څه هم وروسته د پاکستان جمهور رئیس لدي راز تلیفوني مذاکري څخه چي د امریکي د دولت خارجه وزارت د هغه پر صحت اصرار کوي له هغه تلیفون څخه انکار کړیدي او ویلي بي دي چي اصلاً داسي یو تلیفون ندي شوي چي بیا هم د ایمل کاسي په قضیه کي امریکایي دولتي مقاماتو د مطلق تروریزم له فارمول څخه کار اخیستي دي، چي هیڅ نوع قانوني او نړیوال حقوقي مشروعیت او جواز بي نه درلود .

یادونه :

د تعجب خبره دا ده چي د امریکي دولت او یهودان تل د اسلامي نړۍ خلك په تروریزم محکوموي او دي عمل ته بد کار هم وایي په داسي حال کي چي د ایمل کاسي د گرفتاري په عملیاتو کي پخپله د امریکي دولت د ټولو ادعاگانو په خلاف یوه لوڅه تروریستي عملیه اجرا کړیده .

د ایمل کاسي د گرفتاري او د امریکي مقاماتوته د هغه د تسلیمي قانوني مراحل چي باید د پاکستان د اسلامي دولت او هم د امریکي د دولت له لوري مراعات شوي واي .

مور د مقالي په لمړي برخه کي ولیکل چي داسي عملیات چي د CIA او د پاکستان د امنیتي مقاماتو له لوري اجرا شویدي او ایمل کاسي بي لاس ترلي و CIA ته سپارلي دي پدي ارتباط منل شوي بین المللي اصول او قوانین شته چي د هغه قوانینو په رڼا کي باید کار شوي واي خو دلته دا اصول تر پښو لاندي شول .

پکار وه چي د ایمل کاسي په قضیه او کیس Case کي باید د مخه تر دي چي ایمل کاسي ته د پاکستان په دننه کي د CIA د ایجنټانو له لوري زولني وراچول شوي واي د هر څه مخکي باید د امریکي د دولت د خارجه چارو د وزارت له لوري، یوازي د پاکستان د اسلامي دولت د خارجه چارو د وزارت د قونسلگري اداري ته یو رسمي مکتوب او غوښتني لیك را استول شوي واي، او په هغه کي بي د امریکي دولت د پاکستان له دولت څخه غوښتني واي، چي د پاکستان د اسلامي دولت امنیتي مقامات دي ښاغلي ایمل کاسي د یوه وارد شوي اتهام (نه جرم) په تور په پاکستان کي گرفتار او هلته محاکمه کاندي. که د پاکستان دولت د امریکي د دولت دغه غوښتنه منلي واي نو یوازي د پاکستان د دولت امنیتي قوا و (نه د امریکي د دولت د CIA او FBI ایجنټانو) دا حق درلود ، چي د پاکستان د اسلامي دولت د قوانینو او امنیتي اصولو په رڼا کي بي ایمل کاسي گرفتار کړي واي، او په سره سینه بي د هغه څخه د هغه تور په مناسبت چي د امریکي د دولت له لوري پرده لگول شوي دي له ایمل کاسي څخه په اسلامي روحیه د یوه پاکستاني تبعه او وطندار په توگه څه معلومات تر لاسه کړي واي، او ایمل کاسي بي په پاکستان کي د یوه متهم په حیث په عزت ساتلي واي .

پدي برخه کي د مجرمینو د نړیوال قانون په اساس چي دوي ورته په انگریزي International Criminal Exchange Law هم وایي دا ټکي واضح کوي چي :

د ایمل کاسي په مسئله کي د پاکستان د دولت امنیتي مقاماتو ته دا حق نه ؤ چي بي له دي، چي د کاسي څخه نه په پاکستان کي مقدماتي تحقیقات شوي واي او بي له دي چي د کاسي جرم د پاکستان په دروگوتو محکمو کي ثابت شوي واي په یو ارځیز ډول راساً امریکایي امنیتي مقاماتو ته په پاکستان کي وسپاري چي امریکي ته بي د CIA په الوتکه کي والوزوي حتی دپاکستاني حکومت او دولت دا وظیفه ده ، چي د خپل تبعه (Citizen)د ټولو حقوقو ، جسمي سالمیت او عزت ساتنه له خارجي هیوادو څخه وکړي .

نوټ : لیکوونکي پدي ټکي ندي پوه چي آیا د امریکي دولت په رسمي توگه له پاکستاني مقاماتو څخه د ایمل کاسي د گرفتاري غوښتنه کړیده ، که د ، څکه په هغه مطبوعاتو کي چي پدي باب نشرات لري څه ندي لیکل شوي .

دوهمه خبره او اصلي موضوع چي د ډیري پاملرني وړ ده او د کاسي په مسئله کي سترگي پري پټي شوي هغه دا ده ، چي پاکستاني مقاماتو باید ښاغلي کاسي په یو ارځیزه توگه و امریکایي مقاماتو ته نه واي سپارلي څکه د نړیوال قانون په اساس چي د دوه ملکو تر مینځ د مجرمینو د اعادي (Exchange) عملیه توضیح کوي، حکم کوي چي کاسي باید حتماً د یوه هغه امریکایي مجرم په عوض کي تبادله او اعاده شوي واي چي د پاکستاني مقاماتو له نظره په پاکستان کي د جرم د اجرا څخه وروسته - امریکي ته تښتیدلي وي .

څرنگه چي د ایمل کاسي په قضیه کي د نړیوال قانون دوي برخي چي یوه بي د دولت رسمي غوښتنه له بل دولت څخه ده (فقط او یوازي د مجرمینو د اعادي د ترون په صورت کي) .

او دوهمه برخه بي په یو ارځیز ډول د کاسي سپارل امریکایي مقاماتو ته ده بي له دي چي دده په عوض کي یو امریکایي مجرم پاکستاني مقاماتو ته وسپارل شي ، تر پښو لاندي شویدي .

او له بده مرغه پدي عملیه کي پاکستاني امنیتي مقاماتو او هغه سیاسي حلقو چي د پاکستان په دننه کي له CIA سره پټي او ښکاره یاراني لري معامله کړیده نو دا مسئله باید پاکستاني ورونه ، د ایمل کاسي وکیل الدعوي او د کاسیانو ددرني کورني مشران او پوهان په نظر کي ونیسي او له پاکستاني مقاماتو سره بي مطرح کاندي او د ایمل کاسي د گرفتار په مسئله کي په ښکاره ډول یوه حقوقي او قانوني خلا موجوده چي قانوني اصول له نظره غورځول شوي دي او د بین المللي اصولو خلاف د امریکي د جمهور رئیس د تلیفون خبرو- نړیوال قوانین مات کړیدي چي ددي اصولو د نه مراعات ذکر مو په لمړي برخه کي وکړ .

څوځه خبره دا ده چي اوس اوس ایمل کاسي د خپل پاکستاني تبعه د حقوق او د نړیوال قانون(چي هغه ته د مجرمینو د اعادي قانون هم وایي) او د اسلامي روح خلاف له یوه اسلامي ملك څخه په زور، جبر او اکراه اختطاف او تښتول شویدي نو ددي قانوني خلاف ورزي په بدله کي ایمل ته اوس دا قانوني حق شته چي :

الف : پاکستاني مقامات او د ایمل کاسي وکیل الدعوي پر امریکي او د CIA پر اداري زور واچوي چي ایمل کاسي بیرته خپل ملك پاکستان ته وسپاري او که د پاکستان اسلامي دولت بي لازمه او ضروري وگڼي نو د پاکستان د اسلامي قوانینو په رڼا کي دي ایمل د امریکي د دولت د لگول شوي تور په اتهام محاکمه شي .

ب : که د دروگوتو محکمو د حکمو څخه وروسته د ایمل د جرم ثبوت ومنل شو نو یوازي دي پاکستاني مقامات فیصله وکړي چي ایمل په پاکستان کي جزا وويني او یا نه او که د مجرمانو د اعادي د بین المللي قانون یا International Criminal Exchange Law په اساس ایمل کاسي د یوه بل امریکي مجرم سره معاوضه کړي ،

پدي توگه د ایمل کاسي کیس او قضیه حقوقي او قانوني جنبه پیدا کوي چي د منلو وړ به وي خو په اوسني شکل د ښاغلي کاسي سپارل امریکایي مقاماتو ته یو غیر قانوني عملیه ده او بس چي باید ترمیم شي او سر له نوي تازه قانوني اقدامات وشي له بده مرغه په اوسني حالت کي د ایمل کاسي مسئله د امریکي د دولت د زور اوري او باداري روحیه تمثیلوي .

یادونه : لیکونکي چي له کال ۱۹۷۰ څخه تر ۱۹۷۵ پوري د افغانستان د دولت او خارجه چارو له وزارت څخه د پاکستان د بلوچستان کوټه (هغه سیمي چي امریکایي څارنوال اهانت او سپکاوی ورته کوي) په قونسلگري کي مؤظف وم او بیا د اسلام آباد په افغاني سفارت کي د قونسلگري د دفتر مشر او مسؤول وم د پاکستان او افغانستان د دوه و دولتو د مجرمینو د راکړي ورکړي او Exchange عملیات له نږدي کتلي او پدي لار کي عملي تجربي لرم .

او ما پخپله د همدغي افغاني او پاکستاني مجرمانو د راکړي ورکړي او اعادي په لار کي عملي اقدامات او رسمي کارونه کړیدي چي ټول د نړیوال قانون سره برابره و د هغه جریان داسي و چي په هغه وخت کي هیڅ یو پاکستاني مجرم چي په افغانستان کي بي جرم کړي ؤ (او یا د هغه سر چپه) د وزارت خارجي د رسمي غوښتنو او موافقو پرته او د یوه پاکستاني مشابه مجرم او افغاني مشابه مجرم د وجود څخه پرته چي د هر یوه تحقیقاتي مراحل او محاکمي او د جرم ثبوت پخپله هغه ملك کي شوي و چي ده بي تابعیت درلود، یو بل ته نه سپارل کیدل خو هغه وخت چي به دا قانوني مراحل طي شول نو د پاکستاني مجرم او افغاني مجرم اعاده او راکړه ورکړه به لاس په لاس د سپین بولدك او یا تورخم په سرحدي سیمو کي د پاکستاني امنیتي مقاماتو او هم د افغاني امنیتي مسؤلینو په واسطه انجام شول چي د دواړو ملکو د سفارتو قونسلي نماینده گان به هم پکي حاضر وو.

دوغه عملیاتو دوسیي تر اوسه هم د افغانستان او پاکستان د خارجه چارو د وزارت په دفترونو کي شته ودي کتل شي .

نوربیا

د تاریخ یوه پاڼه

ایرانیانو تل له شانه موږ په خنجر وهلي یو

لونگ افغان

که چیرته د افغانستان له حوادثو ډك تاریخ یا پسپلیك وکتل شي دا ټري څرگندیږي چي پارسیانو یا ټني ایرانیانو د تاریخ په اوږدوکي تل موږ له شانه په خنجر وهلي یو که چیرته ورانږي لاړ نشو او د شاه زمان د سلطنت دوره وڅیړل شي لیدل کیږي چي ایرانیانو په ډیرو حساسو شرایطو کي چي زموږ په هیواد کي د کورني جگړي سور اور بل ؤ په ډیره نامردي سره زموږ په کورنیو چارو کي مداخلي کړیدي .

کوم وخت چي شاه زمان په هند کي د دهلي د هجوم یا نیولو ترتیبات نیول د ایران او انگریزانو تر مینځ د ۱۸۰۱ کال د جنوري د لسمي نیټي ترون لاسلیك شو.

په دي ترون کي داسي راغلي وو که چیرته شاه زمان په دهلي یرغل وکړي د ایران قاجاري پادشاه مکلف دي چي پر افغانستان یرغل وکړي انگریزانو د پارس پادشاه دي ته تحریك کړ چي په هرات او خراسان برید وکړي او له دي لاري د جبهي له شانه شاه زمان په خنجر ووهي . همداسي او هم شول او ایرانیانو یا پارسیانو په ډیره نامردي سره پر خراسان برید وکړ له دي امله شاه زمان مجبور شو چي دهلي پریږدي او پرهرات د قاجاریانو د یرغل مخه ونیسي . په دي وخت کي شاه محمود د شاه زمان ورور چي د استاد رباني په څیر ایران ته فراري او شړل شوي و د قاجاریانو له خوا ولمسول شو چي د شاه زمان په ضد افغانستان ته تنوځي .

شاه محمود د وزیر فتح خان په مرسته دسیستان له لار کندهار ته راغي او شاه زمان چي په هند کي بي بیا د دهلي د نیولو ترتیبات نیول بیرته کابل ته راستون شو چي د شاه محمود مخه ونیسي خو بدبختانه د غزني او مقر تر مینځ شاه زمان د شاه محمود له لاسه ماته وخوړله او د محمود لخوا د سترگو له نعمت څخه بي برخي کړي شو . ایرانیانو بیا هم په دي حساس وخت کي د افغانانو له خانه جنگي څخه استفاده وکړه او پر هرات بي یرغل وکړ خو وزیر فتح خان په هرات کي د فتح علیشاه قاجار لس زره لښکر تباه او هرات بي د ایرانیانو له یرغل څخه وژغوره او هرات بي وبیکوم وخت چي وزیر فتح خان د شاه محمود زوي شهزاده کامران لخوا معذول او ناپینا شو بیا هم ایرانیان د افغانانو له بي اتفاقي او کورني جگړي څخه استفاده کوي او په ۱۸۳۲ میلادي کال د پارسي پادشاه قاجار د تزاري روس په تحریك له دیرشو زرو عسکرو سره پر هرات یرغل کوي خو بیا هم د هراتیانو په میړانه له ماتي سره مخامخ کیږي .

دا و د پارسیانو یا ایرانیانو بد نیت او زموږ په کورنیو چارو کي د مداخلي یوه وړه بیلگه چي وړاندي شوه . ایرانیانو تل له موږ سره نا ځواني څلورم مخ

د عمر بن عبدالعزيز «رح» يا «ثاني عمر» د عدالت نمونه

احمد شاه "وحدت"

عمر د عبدالعزيز «رح» زوي چي د اسلام په تاريخ کښي د ثاني عمر په نامه ياد شوي په ۹۹ هجري کال کښي يې د سليمان د وصيت سره سم د خلافت چاري په لاس کښي ونيولې، عمر بن عبدالعزيز يو له هغو کسانو څخه ؤ چه يو ځل بيايې په خپله دوره کښي نړيوالو ته د ملوکيت او خلافت توپير وښود، او خپلي وينا وي يې په عمل کښي ثبوت کړي.

عمر بن عبدالعزيز په لومړني وينا کښي خلکو ته وويل «د حکومت په کولو زه په امتحان کي لوېدلي يم تاسي هر يو صلاحيت لري چه زما د خلافت په باره کښي خپل نظر څرګند کړي، تر څو بله مشر د خپلو چارو د اجرا لپاره انتخاب کړي» ټولو خلکو په لوړ آواز وويل «زموږ ته خوښ يې او ستا په حکومت خوشحاله يو» چه پدي ټوګه نوموړي په رسمي ټوګه د خلکو لخوا د خلافت مقام ته وټاکل شو او بيايې په خپل دويم خطاب کښي رعيت ته وويل: «څوک چه د خداي «ج» اطاعت کوي د هغه اطاعت واجب دي او کله يې چي د الله «ج» له اطاعت نه سر وغړاوه نو د هغه اطاعت لازم ندي» او بيايې د راشده خلفاو پاليسي کټ مټ تعقيبه کړله. هغه خپله ټوله شتمني حتي د خپلي ماندينې د قيمتي ګاڼو په شمول بيت المال ته وسپارلي او څلور سوه ديناره يې د شخصي لګښت په غرض د يو کال په موده کښي له بيت المال څخه ته تعيين کړي چه پدي حساب يې له هر چا ډير خپل مسؤوليت د الله «ج» او د رعيت په وړاندي پاك او سوچه کړ.

يادونه: داسي دير کم خلك پيدا کيږي چي د نفس په وړاندي لکه عمر بن عبدالعزيز «رح» چه د وخت خليفه هم وي دومره کلکه مبارزه وکړي چه د ټولي کورني کلني مصرف يې څلور سوه ديناره وي هغه يو داسي فرمان صادر کړ که هر څو د بني اميه په کورني کومه دعوي لري آزادانه کولي شي چه خپل شکايت د خلافت مقام ته وسپاري تر څو د اسلامي شريعت د فيصلي له مخي يې حق ورکړل شي، کله چي د بني اميه کورني دا فرمان وليد په ډير لوي غم اخته شول دا ځکه چه له عمر بن عبدالعزيز نه وړاندي د بني اميه کورني ډېرو حاکمانو د خلکو مالونه او جايدادونه قبضه کړي وو چه دده په وخت کښي د هغو مالونو او جايدادونو ورکول اصلي خاوندانو ته ددي کورني د غړو لپاره سخت تماميدل نو ځکه له هر چا نه زيات دوي فريادونه کول خو ددي ټولو فريادونو په خوا کښي بيا هم عمر بن عبدالعزيز د حق فيصلي له هر څه د مخه ګڼلي او په هغه حکمونو چي الله «ج» راضي کيده هغه يې تطبيقول. د عمر ماندينه «فاطمه» حکايت کوي چي «زه د عمر هغه خوني ته چه دده په کښي استراحت کاوه لاړم ومي ليدل چي عمر ژاړي، پوښتنه مي تري وکړه ولي ژاړې؟ ځواب يې راکړ: ما د حضرت محمد «ص» د امت چاري په لاس کښي نيولي ويريږم چه فقير به وږي وي، ناروغ به بي وارثه وي، بي ګناه به بندي شوي وي، د بوډا کورني به ناداره وي چه ددي ټولو مسؤوليت زما پر غاړه ده او خداي «ج» ددي ټولو په هکله د قيامت په ورځ له مانه پوښتنه کوي، چه په هغه وخت کښي به حضرت محمد «ص» هم زما په ځنګ کښي ولاړ وي نو ځکه ژاړم چه د قيامت په ورځ د چا حق په ما ثبوت نشي، پدي اساس ژړا او فرياد کوم». هغه ټول ظالم نمايندګان او حاکمان له قدرته لري کړل او د هغوي په ځاي يې عادل او پرهيزګار کسان په مهمو کارونو وګمارل، دا چه د بني اميه کورني خپلي ګټي په خطر کښي وليدي او په فکر کښي وو چه د سلطنت ځاي، د تل لپاره خلافت ونه نيسي نو ځکه يې په ۱۰۱ هجري کال کښي عمر بن عبدالعزيز ته زهر ورکړل او هغه يې پداسي ناځوانه دسيسه د تل لپاره لدي فاني دنيا نه رخصت کړ. الله «ج» دي زموږ په عالمانو او طالبانو کښي د عمر بن خطاب «رض» او عمر بن عبدالعزيز د عدالت نمونې پيدا کړي تر څو زموږ دا په اوبو لاهو بيړي د سمندر له طوفاني څپو نه د امان، عدالت، اخوت او انساني کرامت بندر ته په خير ورسيږي او عاليقدر امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد ته دي لا زيات عمر او توفيق ورکړي تر څو په ټول افغانستان کښي مکمل شرعي نظام قايم کړي چي د ټول عالم اسلام لپاره افغانستان يو محکم اسلامي مرکز جوړ شي او ټول مسلمانان سره يو اتفاق شي او د کفارو ټولي دسيسي په يو اتحاد او اتفاق سره شنډي کړي.

امين ثم امين يا رب العالمين

د ادب مرغلري

پورته مسلمه!

